PROPERTY OF ACKU

DAILY ارادہ

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۹۲۷

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۲۷ مه گڼه، پر له پسې ۱۹۹٤گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د لیندۍ ۸ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق ذوالقعدة الحرام ۲۳ مه ۲۰۱۰ د نومبر ۲۹ مه

افغان پولیسو ته روسۍ وسلې ورکول کېږي

په داسې حال کې چې افغان امنیتي ځواکونه د افغانستان د امنیت ساتنې د مسوولیت منلو ته تیارې دي کورنیو چارو وزارت وایي، چې له روسیې څخه زرګونه میله نوې وسلې ترلاسه کوي. د کورنیو چارو وزارت ویاند زمري بشري د یکشنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې له روسیې څخه دوسلې اخیستلو موافقه مخکې شوې او تراوسه زرګونه میله کلاشینکوفونه ترلاسه شوي هم دي. د ازادي راډیو د راپور له مخې، بشاغلي بشري وویل، چې دا موافقه د ناټو او نورو نړیوالو ځواکونو سره په پوره هماهنګۍ شوې او هڅه کېږي، چې ډېرژر دا وسلې پولیسو ته ورکړې شي.

نزاع میان مردم نیست، میان نخبگان است!

افغانستان کشوری است که سال های زیادی شاهد کشمکش های درونی و خونی بوده که حاصلی جز فقر، رنج، دربدری واهانت در پی نداشته است. این جنگ های خانمانسور و ویرانگر همواره مردم ملکی وعامه را آسیب رسانده و طرفین درگیر دراین منازعات اغلب نامشروع کمتر دچارآسیب شده تا بدانند که پیامدهای آتش افروزی چیست و چگونه انسان های بیگناه قربانی اهداف جنگ طلبانه می شوند.

اگر نظری به تاریخ معاصر افغانستان بیاندازیم خواهیم دید که سال ها جنگ و منازعه در کشور بیشتر از سال ها صلح و آرامش بوده وهمواره جامعۀ ما شاهد مخالفت های بی مورد عدۀ محدودی بودند که برای رسیدن به قدرت سیاسی، قومی و اقتصادی، از ارزش های ملی و انسانی پافراتر گذاشته بودند.

تنش در گذشته ها و حال کشور ما، میان مردم نبوده و نیست، این واقعیتی است که تاریخ افغانستان به خوبی به اثبات رسانده و کسانی که این مسأله را انکار می کنند لطفاً اسناد معتبری ارایه نمایند که نشانگر رویارویی مردم ما درمقاطع مختلف زمانی بوده باشد.

چنین چیزی در تاریخ افغانستان نمی توان سراغ داشت که مردم این سرزمین بر روی هم تیغ کشیده باشند و ارزش های اسلامی وانسانی را به تمسخر کشیده باشند. تاریخ نشان می دهد که در گذشته عده یی به ظاهر فرهیخته و صاحب دانش سهم زیادی در جنگ های داخلی داشتند، گاهی به تحریک استعمارگران و گاهی به دلیل خودپرستی و قوم پرستی تنورجنگ را گرم می ساختند و هیزم آن را شماری از کشورهای منطقه با دسایس و ص۳

در حاشیۀ سفر وزیر خارجۀ افغانستان به مسکو

زلمی رسول وزیر امور خارجۀ افغانستان در سفر به روسیه با 'سرگئی لاوروف'.وزیر امور خارجۀ روسیه در مسکو دیدار و گفتگو کرد. وی در کنفرانس مطبوعاتی مشترک، بر نقش کشورهای همسایۀ افغانستان در کمک به حل مشکلات این کشور از جمله مبارزه با قاچاق مواد مخدر و تروریزم تاکید کرد. زلمی رسول در حالی به مسکو سفر کرد که انتقادات گستردۀ مقام های دولت افغانستان به ویژه رییس جمهور کرزی از روسیه به دلیل مشارکت در عملیات اخیر نیروهای امریکایی در ولایت ننگرهار، بر روابط مسکو و کابل سایه افکنده است. به همین دلیل، لاوروف ، در دیدار با وزیر امور خارجۀ افغانستان، با اعلام اینکه نیروهای روسیه در عملیات ننگرهار به عنوان ناظر حضور داشتند، کوشید از تاثیر آن بر روابط دوکشور بکاهد. این در حالی است که خبرگزاری



ها از مشارکت نیروهای عملیاتی روسیه در عملیات نیروهای امریکایی در ولایت ننگرهار خبر داده بودند که باعث واکنش تند رییس جمهور کرزی شده بود. این عملیات که تحت عنوان مقابله با مراکز تولید مواد مخدر صورت گرفت در واقع، اولین حضور نیروهای روسیه در افغانستان پس از شکست ارتش سرخ شوروی سابق در افغانستان در دهۀ هشتاد میلادی و خروج از این کشور بود. اظهارات وزیر امور خارجۀ روسیه در دیدار با همتای افغان خود در مورد همکاری مسکو با سازمان پیمان اتلانتیک شمالی ناتو در افغانستان نشان می دهد که روسیه ص۳

سودای تازه؛ کرسی ریاست در میدان بازی

در حالی که نتایج انتخابات ولسی جرگه، سرفصل‌های جدیدی را در وضعیت سیاسی کشور ایجاد کرده، تلاش‌ها برای قاپیدن کرسی ریاست ولسی جرگه به شدت آغاز شده است.

تا کنون شماری از اعضای پیشین ولسی جرگه که در مجلس کنونی هم راه باز کرده‌اند، در کنار شماری از شخصیت های سیاسی یی که تازه به ولسی جرگه راه یافته‌اند، خود شان را برای راه یافتن به صدارت مجلس آماده کرده‌اند. اما هنوز معلوم نیست که کی‌ها خود را برای رساندن به دیگر کرسی‌های مدیریتی پارلمان آماده کرده‌اند.

شکی نیست که دو جریان حکومت و اپوزیسیون تلاش دارند، تا هرکدام ص۳

مشرانو جرګه تر ۲۰۱۴ کال وروسته د افغانستان امنیت ته اندېښنه لري

مشرانو جرګې د یکشنبې پرورځ د افغانستان د بهرنیو چارو او دفاع وزارتونو چارواکي خپلې عمومي غونډې ته ور بللي وو، چې پر دې مسایلو او د افغانستان او ناټو د وروستۍ ګډې اعلامیې په اړه توضیحات ورکړي. ایا تر ۲۰۱۴ کاله پورې به افغان ځواکونه دومره پیاوړي کړای شي چې په هېواد کې امنیتي مسوولیتونه پرغاړه واخلي، دغه مسوولیت سپارنه به څرنګه ترسره کېږي او له یادې نېټې وروسته به د بهرنیو ځواکونو ماموریت څرنګه وي، دا او ځینې نورو مسایل د مشرانو جرګې داکثرو غړو داندېښنې وړ وو. ناټو سازمان د پرتګال د مرکز لېزبون په سرمشریزه کې هوکړه وکړه، چې راتلونکی میلادي کال به له افغانستان څخه د بهرنیو ځوکونو وتل پیلېږي او د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې به ټول امنیت افغان ځواکونو ته سپارل کېږي. د ازادي راډیو د راپور له مخې، یوه سناتور حسن هوتک په دې اړه وویل: "دې ته اندېښمن یو، چې افغان ځواکونه په وسلو سمبال نه دي، قوایي قوانه لرو. دوی به افغانستان ځواکو سم وروزي او که نه.

د بحرانونو نړیواله ډله:

که بهرني ځواکونه ووځي د کابل حکومت سقوط کوي

افغان امنیتي ځواکونو تراوسه پورې د طالبانو په وړاندې ښه وړتیا نه ده ښودلې

د نړیوالو بحرانونو ډلې خبرداری ورکړی چې له افغانستانه به د نړیوالو ځواکونو له وتلو وروسته د کابل حکومت سقوط وکړي.

دې ډلې په یوه راپور کې ویلي، داسې کم شواهد شته د نړیوالو ځواکونو عملیاتو دې د دولت د وسلوالو مخالفانو د حملو شدت ورو کړی وي. دا ډله وایي چې طالبان تر بل هر وخت زیات فعال دي او لا هم په پاکستان کې له ملاتړ او خوندي پناهځایونو برخمن دي.

د نړیوالو بحرانونو ډله دا هم وایي چې طالبان او نورې وسلوالې ډلې چې له القاعده سره اړیکي لري، باور کېږي چې سرحدونو ته نږدې د پاکستان په قبایلي سیمو کې د پاکستان د استخباراتي مامورینو له ملاتړه هم برخمنې دي.

د نړیوالو بحرانونو ډله له افغانستانه د ځواکونو د ایستلو لپاره د ناټو موافقه، چې د لیزبون په غونډه کې پرې ۳مخ



اوس هم د افغان جګړې ډېرې قربانیان ولسي وګړي دي

۲

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

د بحران د نړیوالې ادارې نوی رپوټ، د افغانستان د شتو ناخوالو روښانځور

په افغانستان کې جګړه د هرې ورځې په تېرېدو سره زور اخلي او لا خونړۍ کېږي، زیاتې قرباني اخلي، نورې بربادۍ او ورانۍ رامنځ ته کوي. د افغانانو او افغانستان ستونزه یوازې جګړه نه ده، چې دوی دمګړۍ ورسره لاس او ګرېوان دي، نور افتونه او ناورینونه هم پر دوی نازل دي، د فقر، فساد، بېکارۍ، بې قانونۍ ترڅنګ زمور د سیاسي سټو له لوبو زېرنده ناورین هم دوی ځب ځب کړي.

همدا اوس د افغانستان د ټاکنو ناورین خپل اوج ته رسېدلی، چې دا به د افغانستان په تاریخ کې د ډیموکراسۍ پر لمنه د ننګ یو تور داغ وي.

له دې ټولو شتو ناخوالو ترڅنګ، پرون د یوې منل شوې ځیرونکې ډلې اعلان وکړ، چې په افغانستان کې د ولسمشر کرزي حکومت د نسکوریدو او نړیواله ټولنه د جګړې د بایللو په درشل کې ده.

دا رپوټ د نړیوال بحران د ادارې له خوا چې مرکز یې په بروسکسل کې دی وړاندې شوی دی، په دې رپوټ کې راغلي دي چې د طالبانو د له منځه وړلو په برخه کې د ناټو ځواکونو د ملکي وګړو ترمنځ د اعتماد رامنځ ته کول، د وسله والو هڅول او د افغان امنیتي ځواکونو د شمېر زیاتوالی د ناکامۍ پلو روان دي.

په دې رپوټ کې راغلي دي: «ډېر کم شواهد به شتون ولري چې د عملیاتو په ترڅ کې دې ترهګر پاشل شوي وي، طالبان له بل هر وخت څخه ډېر پیاوړي شوي دي او په خپل پټنځایونو کې اوسېږي او د پاکستان ملاتړ له ځانه سره لري.))

دا په داسې حال کې ده، په روان کال کې د وژل شویو بهرنیو سرتېرو شمېر ۶۶۲ تنو ته رسېږي چې د دې ځواکونو د تېر کال د تلفاتو په پرتله چې د وژل شویو سرتېرو شمېر یې ۵۲۱ تنو ته رسېده په بې ساري توګه زیاتوالی ښیي. په دې رپوټ کې همدا راز راغلي دي، چې افغان ځواکونه د طالبانو په اند یو کمزورې قوت ثابت شوی دی.

په هر حال، مور د دې رپوټ پر نورو اړخونو بحث نه کوو، یوازې دومره وایو، چې دغه رپوټ د افغانستان د تېرو نهو کلنو د بریاوو او ناکامیو یوژوندی انځور دی، د دې ترڅنګ دغه رپوټ د دې ښودنه هم کوي، چې په دې موده کې د نړیوالې ټولنې او افغان دولت ټولې پانګونې او هڅې، ستراتیژۍ او برنامې له ماتې سره مخ شوي، هېواد یې له ناورین سره مخ کړی، د دې پرځای چې افغانستان امن کړي، د خلکو باور ترلاسه کړي، د خلکو ستونزو او ارتیاوو ته پاملرنه وکړي، د خلکو د ژوندانه د پرمختیا لپاره کار وکړي، د یو لړ مرموزو حرکاتو له امله، د افغانستان وضعیت لا خورین شوی، د دوی د بې کفایتۍ او ناکارۍ له امله، فساد، بېوزلۍ او په لسګونو نورې ناخوالو دلته ځالې جوړې کړې او اوس وضعیت دې حد ته رسېدلی، چې نه افغانان او نه هم نړیواله ټولنه، د راتلونکي بسیا، هوسا او روښانه افغانستان لپاره هیله من کېدلی شي.

اوس هم د افغان جګړې ډېرې قربانیان ولسي وګړي دي

میوند


AP

له کله نه چې په افغانستان کې امریکایي او ورسره ناټو پوځونو خپل حضور موندلی او ورسره یې د لویو او وړو عملیاتو په ترسره کولو لاس پورې کړی، نو د جګړې د تودېدا تر څنګ ورسره د ملکي وګړو په مرګ ژوبلې کې هم ورځ په ورځ ډېروالی راغلی دی. په افغانستان کې د ناټو او امریکا د جګړې له پیله تر اوسه پورې څو ځلې د دوی د پوځي ماموریت په لوړو پوستونو کې بدلونونه راغلل. دا بدلونه په افغانستان کې د بهرنیو پوځونو د مشرۍ تر څوکۍ هم ورسېدل او دا څویم وار دی، چې په افغانستان کې د ناټو او بهرنیو پوځونو لپاره نوی قومندان ټاکل کېږي. وړاندې به نه ځو، خبره له مکریستال نه راپیل کړو. مک کریستال د بهرنیو ځواکونو داوسني مشر ډېوډ پیټرایوس تر مخه د بهرنیو پوځونو سر مشر و. د ده په اړه ویل کېدل، چې د ملکي تلفاتو په برخه کې یې کمې راوستې دي او په دې برخه کې ډېر په احتیاط ګامونه اخلي. تر ده مخکې په افغانستان کې د ناټو عمومي قومندان په هکله ویل کېدل، چې د ملکي وګړو مرګ ژوبلې ته هېڅ پاملرنه نه کوي، خو د مک کریستال په اړه بیا د ملکي تلفاتو او خپلسرو تلاشیو په برخه کې بیا نیوکې تر یوې اندازې پورې کمې شوې، خو له منځه نه لاړې، بلکې د نومورې په دوره کې هم ځینې داسې مهمې پېښې شته، چې د ملکي تلفاتو او زیانونو د پراخې اندازې څرک ورڅخه لګېدای شي. اوسمهال چې څه موده د بهرنیو ځواکونو د وتلو او افغان ځواکونو د ځانګړې وړتیا د ودې خبرې کېږي، د ملکي تلفاتو شمېر بیا لوړ شوی دی. د ملګرو ملتونو د افغانستان د مرستې د ماموریت (یوناما) د رپوټ له مخې، یوازې د ۲۰۱۰ کال په لومړیو نهو میاشتو کې ۱۴۶۲ ملکي وګړي وژل شوي دي، چې د تېر کال د همدې موده په پرتله ۱۵ سلنه لوړوالی ښیي.

وړاندې په افغانستان کې د بهرنیو پوځونو لپاره نوی لوی قومندان ډېوډ پیټرایوس ټاکل کېده، نو ورسره دا هم ویل کېدل، چې نومورې سمون په بهیر کې ښه تجربه لري او دا تجربه یې په عراق کې ترلاسه کړې ده. همدشان په اړه یې دا هم ویل کېدل، چې نومورې به تر ډېره د ملکي تلفاتو مخه ونیسي او د افغانستان جګړې ته بهدحل یوه مناسبه لار ومومي، ځکه د ده له ټاکل کېدو سره سم او باما دا څرګنده کړه، چې په افغانستان کې د مک کریستال له خوا پر مخ بېوونکې پالیسي او تګلاره پیټرایوس جوړه کړې وه او په افغانستان کې تر یوې اندازې پورې د هغه د بریالیتوب راز د پیټرایوس له امله او په همدې پار یې د ځینو سیاسي ملحوظاتو له امله هغه له دندې ګوښه او پر ځای یې پیټرایوس وټاکه. خو د ده له ټاکل کېدو سره سره هم د افغانستان په عمومي وضعه کې کوم مثبت بدلون تراوسه پورې نه لیدل کېږي، د نوموړي په دوره کې تر بل هر وخت ډېر بهرني پوځونه وژل کېږي، ډېرې ملکي وګړي ټپیان او وژل شوي او لا هم وژل کېږي او همداشان په وسلوال مخالفت کې هم تر بل هر وخت اوسمهال ډېر زیاتوالی او پراختیا راغلې ده او نومورې په خپله جوړه کړې پالیسۍ کې بریالی نه ښکاري، سره له دې چې د ده ټاکل کېدو ته ډېرې خلک خوشبین هم وو. په هر صورت دا خبره د یادونې ده، چې اوسمهال هم د ولسي وګړو د مرګ ژوبلې شمېر ورځ په ورځ لوړېږي. که څه هم دا ډول مرګ ژوبلې څو اړخونه لري، د بهلګې په توګه د طالبانو په بریدونو کې هم ملکي وګړو ته زیان رسېږي، همدشان په ځانمرګو بریدونو او داسې نورې چارې تلفات لري، خو څومره تلفات چې د ناټو او امریکایي ځواکونو له لوري کېږي، هغه بیا تر نورو ټولو لوړ دي. ځینې داسې بهرني ځواکونه هم شته، چې په افغانستان کې د ملکي وګړو پر وژنو باندې ساتېریانې او تجربې هم کوي، چې غوره بهلګه یې

په همدې تړاو څه ۳مخ

موانع اقتصادی در کشور های رو به توسعه و پیامدهای آن

هوسی اکبری محصل ژورنالیزم

در هر جامعه که اگر در آن نزاع داخلی وجود داشته باشد سبب می گردد، تا از توسعهٔ بیشتر بازماند و موانع مختلف در این کشورها وجود دارد که موانع اقتصادی هم جزء این مشکلات است؛ برای روشن شدن اینکه کدام عوامل سبب موانع اقتصادی داخلی در کشور های در حال توسعه می گردد، لازم است، یک اندازه در بارهٔ عوامل آن معلومات داده شود، موانع داخلی اقتصادی ناشی از ساختار اقتصادی جوامع در حال توسعه است و شاخص های ذیل از جملهٔ عمده ترین موانع به شمار می رود، این کشورها با کمبود شدیدی سرمایه گذاری مواجه است؛ چنانکه جامعه شناسان نیز، معتقد هستند که یکی از موانع اصلی کشورهای در حال توسعه، کمبود سرمایه و نبود انباشت آغازین سرمایه است؛ زیرا همان طوری که می دانیم اقتصاد نو نیاز به سرمایه های کلان دارد؛ در حالی که اکثر کشورهای فقیر نتوانسته اند، این پیش نیاز توسعه را بر آورده کنند و این عوامل سبب شکسته گی شده و مانع توسعه می شود. توزیع نابرابر کالا و خدمات نیز باعث شده که افراد فرصت یکسان در استفاده از سرمایه های موجود در جامعه را نداشته باشند؛ چنین وضعیت باعث توسعه ناموزون در جامعه شده و به مانع توسعه تبدیل می گردد در این کشورها عدهٔ کمی از جمعیت به اکثر امکانات دسترسی دارد و اکثریت مردم شان از کالاهای اساسی و خدمات محروم اند. در چنین جوامع، نابرابری اقتصادی وجود دارد که مبنای شکاف اجتماعی است و باعث می گردد که همه گان به طور یکسان در توسعه مشارکت نکنند؛ از جانب دیگر، در کشورهای در حال توسعه، بخش خدمات از دیگر بخش های اقتصادی رشد چشمگیرتری دارد؛ یعنی تناسب بین رشد این بخش با دیگر بخش وجود ندارد و بخش خدمات قسمت اعظم سرمایه های این کشورها را به خود اختصاص می دهند؛ رشد بی حد بخش خدمات به بیماری اقتصادی تبدیل می گردد که هر روز اقتصاد کشور ضعیف تر می شود و امکان صرفه جویی و انباشت آغازین سرمایه را از کشورهای در حال توسعه می گیرد که این حالت باعث فساد در نظام اداری

ص۳

در حاشیهٔ سفر وزیر خارجهٔ...

در صدد بازگشت به افغانستان است و در همین راستا، آماده گی خود را برای بازسازی ۱۵۰ مرکز صنعتی و اقتصادی افغانستان که با مشارکت شوروی سابق احداث شده است، نیزاعلام کرد. این در حالی است که به دلیل سابقهٔ اشغالگری روسیه در افغانستان، مردم این کشور نگاه مثبت به سیاست های مسکو ندارند و به همین دلیل، دولت روسیه برای بازگشت مجدد به افغانستان با احتیاط عمل می کند. به نظر می رسد، از دیدگاه روسیه، مسألهٔ مواد مخدر و مقابله با آن، زمینهٔ مناسبی برای ورود به افغانستان است. به همین دلیل، لاوروف در دیدار با زلمی رسول بر مشارکت کشورهای به اصطلاح همسایهٔ افغانستان در این خصوص تاکید کرده است. با توجه به اینکه تجربهٔ قبلی روسیه در همکاری با امریکا در عملیات ننگرهار ناموفق بود؛ دولت کابل و مردم افغانستان نیز نگاه مثبتی به آن نداشت به نظر می رسد، مسکو درصدد توجیه ورود نیروهای خود به داخل افغانستان است که دولت این کشور آن را غیرقانونی و ناقض استقلال و حاکمیت ملی افغانستان اعلام کرده است.

سودای تازه؛ کرسی ریاست ...

برای به دست آوردن کرسی ریاست پارلمان، بیشتر از دیگری ارایهٔ قوت بدهند؛ اما در این میانه، تا هنوز مشخص نشده که این جناح‌ها از میان افرادی که خود شان را برای رقابت در ریاست پارلمان آماده کرده‌اند، از چه کسی حمایت می‌کنند.

گفتنی است که رییس پیشین ولسی جرگه نیز، در میان نامزدان این دور، برای دوباره دست یافتن به کرسی مجلس نماینده گان حضور دارد.

در همین حال، این آوازه‌ها به شدت مطرح می‌شود که قرار است، مسألهٔ نتایج انتخابات افغانستان به محکمه کشانده شود؛ در آن صورت، احتمال می‌رود که محکمه با توجه به تورم شکایت‌ها و ارایهٔ دوسیه‌های جنجالی و شاید هم در یک برنامهٔ سیاسی نتایج انتخابات را باطل اعلام کند.

اما به نظر نمی‌رسد که این احتمال وضعیت، رقیبان بر سر کرسی ریاست ولسی جرگه را از راه باز دارد؛ زیرا شماری از این نامزدان به این باور اند که حکومت با طرح این ماجراها می‌خواهد، افکار را در حاشیهٔ قاعدهٔ بازی معطوف و مصروف کند و در یک اغفال ذهنی، زمینه را برای پیروزی طرفداران خود در داخل مجلس مساعد سازد.

با این‌همه، چنان به نظر می‌رسد که جناح حکومت در این رقابت‌ها ـ با توجه به نفوذ قابل توجهی که جناح اپوزیسیون در این انتخابات به‌دست آورده ـ به سیاستی دست بزند که بتواند قدرت رای نامزدان جناح مقابل را در چند ستون مشخص تقسیم کند و خود با توجه به داشتن نامزد مشخص و اتفاق رأی بر سر آن، بتواند به کرسی پارلمان دست یابد.

در چنین احوالی نیاز است، تا برای دست یافتن به ریاست ولسی جرگه، بیشتر سیاسی فکر کرد و حمایت آنانی را جلب کرد که توانسته‌اند، در حد قابل توجهی به کرسی‌های مجلس دست یابند.

اما تا جایی که به فهرست علاقمندان به کرسی ریاست پارلمان نظر می‌کنیم، این افراد هر کدام با قرائت و سنجش مشخصی وارد رقابت می‌شوند و شماری هم فقط برای یک معامله با نامزد قویتر، خودشان را در این رقابت سهیم می‌سازند. اما هنوز معلوم نیست که بازیگران اصلی از چه کسی حمایت می‌کنند.

البته نباید فراموش کرد که در نخستین قدم، پیشینهٔ شخصیتی و کاری فرد برای انتخاب در ریاست ولسی جرگه از اهمیت خاصی برخوردار است و نقش قدرت‌های بیرونی و موثر در کنار بافت های ملیتی داخل مجلس و راه‌اندازی معامله‌های پولی و اعمال نفوذهای سیاسی را نیز، نباید فراموش کرد.

اما مهم این است که در این انتخاب‌ها مردم چندان نقشی ندارند و نماینده گان آنها هر کدام با توجه به تأثیر یکی از فکتورها و گزینه‌هایی که در بالا به آن اشاره کردیم، در این مورد رأی می‌دهند که امیدواریم نماینده گان راه‌یافته به مجلس ـ در صورتی که غایله‌یی، کار شان را تمام نکند ـ بر بنیاد ایمان و وجدان‌شان رای بدهند و اتفاق نظر کنند.

مردم به مجلس مقتدر و ریاست پاسخگو نیاز دارند؛ ریاست متعهد و مدبری که بتواند، مجلسی با حال و هوای افغانستان را اداره کند. دیده شود که آخر کار به چه می‌انجامد.

موانع اقتصادی در کشور های ...

کشور می گردد، بیکاری و فقر در این کشورها بسیار تند پیش می رود. بیکاری که در واقع، نتیجهٔ ملموس آن فقر است، چرا در این کشورها به میان می آید؟ در این کشورها، ساختار اقتصادی شان به گونه یی است که نمی تواند، همه افراد در سن فعالیت و کار را جذب کند و در نتیجه، جمعیت عظیم این کشورها بیکار می گردد و چون اقتصاد قادر به تامین مالی بیکاران در دوران بیکاری نیست، این وضعیت به فقر منجر می شود، حتا بسیاری از افراد در این کشورها از جمله بیکاران دایمی اند. یعنی همیشه با فقر دست و پنجه نرم می کنند، بیکاری و فقر در بسیاری از کشور های عقب مانده به عامل توسعه نیافته گی تبدیل می شود؛ گرچه خود از نتایج مخدوش این کشورهاست؛ چنانکه بعضی از دانشمندان اقتصاد فقر و بیکاری را دو روی یک سکه دانسته اند، موانع اقتصادی پیامد های بدی را به دنبال دارد که مهمترین این چالش ها عبارت است: از ضعف در نظام آموزشی، صحت و تغذیه، بی سوادی، بی عدالتی اجتماعی. زیرا در کشورهای در حال توسعه امکانات صحی ضعیف می شود که این حالت باعث شیوع انواع بیماری ها، مرگ و میر و به ویژه مرگ و میر کودکان می شود و سوء تغذیه از رایج ترین بیماری ها در این کشور می گردد. مجموعهٔ این دو عامل باعث می شود، تا جمعیت ضعیف و ناتوان در کشورهای در حال توسعه به وجود آید که نه تنها در فرایند توسعه موثر نیستند، بلکه خود مانع توسعه اند. همان طوری که جامعهٔ بیمار نمی تواند، از لحاظ توسعه تحرک داشته باشد، بناً به یک جامعه مصرف کننده تبدیل می شود و نیرو و توان توسعه را می گیرد. همچنان ضعف اقتصادی در یک کشور سبب می شود که تا درصدی بی سوادان بالا برود؛ در حالی که یکی از بسترهای اصلی توسعه، با سواد بودن مردم است؛ در این کشورها نظام آموزشی وجود دارد، ولی متاسفانه از نگاه ساختاری نظام آموزشی شان با مشکل رو به رو است؛ یعنی هزینهٔ زیادی صرف باسواد کردن مردم می شود، اما آموزش های غلط و روستایی در چنین شرایط روستاییان را راهی شهرها می کند و روستاها از نیروی کار تخلیه می شود؛ فاصلهٔ طبقاتی و بی عدالتی اجتماعی از دیگر چالش ها و پیامدهای موانع اقتصادی می باشد که این موانع طبقاتی یک نوع فاصله بین اغنیا و فقراء را به میان می آورد؛ طوری که اقلیت ثروت مند اکثریت ثروت جامعه را در اختیار خود دارد و اکثریت کم درآمد و فقیر وجود دارد که درصد بالای آن در زیر خط فقر زنده گی می کند؛ موانع اقتصادی سبب عدم پیشرفت در جامعه شده و در چنین شرایطی کشورهای سرمایه دار متوجه این کشورها شده و به گونه های مختلف و از طریق دامن زدن به اختلافات درونی، می خواهند که به اهداف شان در این کشورها برسند.

اوس هم د افغان جګړې ...

مودہ مخکې دیوه بهرنۍ سرتېرې محاکمه کول وو. داسمه ده، چې په جګړه کې ملکي وګړوته هرومرو زیان رسېږي، خو داسې هم باید ونه شي، چې بهرنۍ سرتېرې له خپلو مجهزو وسایلو سره سره بیا هم دوسلوالو په نامه ملکي وګړي په نښه کوي او بیا تر وژلو وروسته یې په اړه تحقیقات کوي. دا هم باید ووایو، چې په افغانستان کې چې څومره جګړه پراخېږي، په هماغه کچه ورسره ملکي تلفات هم زیاتېږي، خو تر ډېره بریده ملکي تلفاتو ته پاملرنه نه کېږي. او دا مسئله بایزه ګنل کېږي. په همدې لړ کې کله چې بهرنۍ پوځونه عملیات کوي، نو د ډېرې وسلوالو دوژنې ادعاوې کوي، خو بلخوا بیا وسلوال مخالفین وایي، چې ناټو تر ډېره ملکي وګړي وژنې او په دې توګه دوی هغه کسان چې ډېره ولري او پګړۍ پر سر وي، دوی ته طالب نښکاري او وژنې یې او یا یې ځوروي. نو په دې توګه ناټو او امریکایي هغو پوځونو ته چې د جګړې ډګر ته ځي، لازمه ده، چې لومړی د افغانستان له کولتور سره ځان بلد کړي، بیا عملیات وکړي، ملکي او نظامي کسان تفکیک کړي او همداشان له خپلسرو عملیاتو هم ډډه وکړي. له بلې خوا افغان دولت او نړیواله ټولنه په ګډه داسې یوه ستراتېژي او تګلاره جوړه کړي، چې دوسلې وګړو په تلفاتو کې کمی راولي او که دوسلې وګړو وژنه همداسې په پراخه اندازه لکه اوس چې روانه ده دوام ومومي، نو نور به د ولس وینه هم پر جوش راشي او د عمومي پاڅون لور ته به مخه کړي او د خپل ځان او حق دفاع به وکړي.

که بهرني ځواکونه ووځي ...

موافقه وشوه، د دغه هېواد د شخړې د حل نسخه نه بولي او وایي چې افغان امنیتي ځواکونو تراوسه پورې د طالبانو په وړاندې نه ډه نه ډولې. د تاند وېښې د راپور له مخې، دا ډله په خپل راپور کې وایي چې د بهرنیانو له ملاتړه پرته به د کرزي حکومت وپرځي، طالبان به د افغانستان لویه برخه لاندې کړي او کورنۍ شخړې به سر راپورته کړي او هغې وراووونکې جګړې به پایل شي چې په نوي یمه لسیزه کې شوې وې. لوېدیځ ځواکونه غواړي چې د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې د افغانستان د ټولو امنیتي چارو مسوولیت افغان ځواکونو ته وسپاري.

نزاع میان مردم نیست...

نیرنگ فراهم می کردند.

اکنون هم چنین است؛ بحران کنونی افغانستان نتیجهٔ کشمکش میان نخبگان کشور و مداخلات خارجی می باشد که با تآسف در این میان مردم اند که پایمال می شوند. هر باری که بحث تقسیم قدرت صورت می گیرد، عده یی از روشنفکران قلابی؛ نخبگان و توانمندان سیاسی، اقتصادی و اجتماعی چنان به قدرت تمایل پیدا می کنند که گویی هیچ ارزش اخلاقی، قانونی و انسانی برای آنان دارای اهمیت نمی باشد. دومین دور انتخابات پارلمانی افغانستان اگر از یکسو گامی به سوی دموکراسی و مشروعیت سیاسی بود، از طرف دیگر زمینه یی بود برای تخریب و عقده گشایی عده یی که خود را و ارثان اصلی قدرت این سرزمین می دانند. متاسفانه به دنبال اعلام نتایج نهایی دور دوم انتخابات عده یی که آرای مردم را کسب نکرده بودند، تغییر شخصیت دادند و به انتقاد از زمین و زمان پرداختند. عده یی از نامزدان شکست خورده که قبل ازانتخابات ادعا می کردند، منبع اعمال و گفتار شان عقلانیت و خواسته های مردم می باشد، بعد از انتخابات دست به اقداماتی زدند که نه عقلانیت سیاسی آن را می پذیرد و نه مردمی که برای استعمال رای شان و انتخاب نماینده گان خود حاضر به قربانی دادن شده بودند. قصد ما این نیست که بگوییم، تقلب ها و تخلف های صورت گرفته در انتخابات گذشته بجا بوده و نباید در بارهٔ آن سخن گفت. حرف اساسی ما این است که چرا این تخلف ها به مردم نسبت داده می شود و عده یی از نامزدان شکست خورده از مردم می خواهند، انتقام بگیرند. بند کردن شاهراها مواصلاتی و سرک ها، وارد کردن اتهامات فاقد اسناد بر برخی از مسوولان و دامن زدن به نفاق ملی و اینکه فلان نمایندهٔ انتخابی پشتون و فلان تاجیک و یا هزاره است و نمایندهٔ ما نیست، آیا جفا به مردم نیست؟ مردم در انتخابات گذشته وظیفهٔ خود را انجام دادند و با وجود تهدیدهای فراوان و بحران عدم اعتماد، به پای صندوق های رای حاضر شدند، تا برای فردا این میهن کسانی به خانهٔ ملت راه یابند که دردمردم را داشته باشند و از عزت و اقتدار ملی این سرزمین دفاع بکنند. بی تردید باید گفت مردم تقلب نکردند، بلکه عده یی فرصت طلب و صاحب امکانات و موقف های نامشروع بودند که در جامعه خود را به حیث نخبگان و صاحبان قدرت جا دادند و در مواردی رای مردم را ترور ساختند و اکنون پاسخگوی این بحران هم باید همین آقایان باشند.

احمد ارشاد خطیبی

ملامنصور ولې جعلي وخوت؟!

محب الله الله یار

څه موده وړاندې واشنګټن پوسټ ورځپاڼې یو رپورټ خپور کړ او د ولسمشر حامد کرزي د دفتر د مشر محمد عمر داودزي له خولې په کې لیکل شوي وو ((یو کس چې د طالب قومندان ملا اخترمحمد منصور په نامه یاد شوی و، د ولسمشر لیدو کتو ته راوستل شوی و.))

تر دې وړاندې نیویارک ټایمز ورځپاڼې رپورټ ورکړی و، چې ((دغه ملا منصور د ناټو د چورلکې په مټ د پاکستان له خاورې افغانستان ته لېږدول شوی و او د ولسشمرۍ په مانۍ کې ښکته کړل شوی و.))

ددغه راپور له مخې افغان ولسمشر د ناټو په مرسته دغه سړي ته ښې ډېر روپۍ ورکړي او د جوړجاړي په موخه یې ورسره خبرې اترې هم شوي دي.

خو ددغو خبرونو په خپراوي افغان ولسمشر څو ورځې مخکې له ملا منصور سره خبرې اترې کول رد کړي وو او له طالبانو سره یې دغه راز خبرې کول د بهرنیو رسنیو بې ځایه تبلیغات بللي وو.

اوس ویل کېږي چې په ربښتیا سره دغه سړی د پاکستان د کوټې ښار کې اوسېدونکی یو دوکاندار و او دی ار (اصیل) نه بلکې جعلي ملامنصور و او د ولسمشر کرزي دفتر یې اوس پرې په برتانوي چارواکو اچولې ده.

د ولسمشر کرزي د دفتر مشر محمدعمر داودزي واشنګټن پوسټ ورځپاڼې ته ویلي دي، چې نوموړی د برتانوي دیپلوماتانو له خوا د ولسمشر لیدو ته وروستل شوی و. داودزي داهم تایید کړي ده چې برتانوي دیپلوماتان په دغه غونډه کې ناست وو.

د امریکا پټو څارو معلوماتو هم دا جوته کړې چې ددغه سړي ونه (قد) له هغه ملامنصور نه څو انچه ټیټ دی چې د طالبانو د واکمنۍ پرمهال د هوایي چلند وزیر و.

د برتانیا استخبارات ام ای ۶ هم دامني چې له افغان چارواکو سره یې ددغه سړي د لیدو په چاره کې مرسته کړې ده.

اوس نیوکه هم داده چې ولې افغان حکومت په داسې چارو کې له دقت نه کار نه اخلي او نه خپل ځان د یوې ملي ستونزې په اړه هومره چې یې مسوولیت لري نه یې احساسوي؟

دې یادې نیوکې لپاره یوه ښلګه په ننګرهار کې له ناټو ځواکنو سره د روسي ایجنټانو ګډ عملیاتو کېدی شي، چې په اړه یې ښاغلي کرزي سخت غبرګون ښودو او ویلي وو چې ((دا چاره له دوی سره د ناهمغږۍ په صورت کې ترسره شوې ده؛ نو ناټو ته په کار ده چې ارګ ته ددې عملیاتو په اړه توضیحات ورکړي!)).

خو وروسته بیا د افغانستان د کورنیو چارو وزارت دا تایید کړه چې دوی ددغوعملیاتو له بهیر نه خبر وو او دا کار په همغږۍ ترسره شوی و.

ډېر خلک اندېښنه لري او وایي، چې ولې افغان حکومت یوه خوله نه دی او د ځینو چارو په خبرېدو کې له خپل وجوده ناخبره وي؟!.

د یادې موضوع ترشا ډېرې خبرې پرتې دي او له املې یې له شمېره وتې ستونزې زېږېدلی شي؛ خو مور ترې یو څو ښلګې را اخلو:

لومړی خو داده چې اوس د افغان حکومت تر ټولو ستره اړتیا داده چې له خپلو وسلوالو مخالفینو سره د جوړجاړي یوه لاره ومومي او په داسې نازک حالت کې چې د اصلي مخالف په نامه له جعلي (بدل) هغه سره د روغې جوړې وخت ضایع کوي؛ نو یوازې دانه چې په سیاسي لحاظ به خپل باور له لاسه ورکړي؛ بلکې خپل ولسي ملاتړ به هم ورنه تردې ډېر وشړېږي.

دویم: شاید بریتانیا په داسې چارو سره وغواړي چې د افغان حکومت او وسلوالو مخالفینو ترمنځ لا اوبه خړې کړي او کومه تمه چې کېدای شي یوې مفاهمې ته لار هواره شي تردې نوره هم ترینګلې کړي.

درېیم: که مخالفو وسلوالو افغان حکومت ته د ازموینې لپاره د ار (اصلي) ملا اخترمحمدمنصور پرځای جعلي (بدل) هغه ورلېږلی وي، ترڅو معلومه کړي افغان حکومت او بهرنیان د روغې جوړې په چاره کې مخلص دي او که نه؛ نو په دې سره به خپله د وسلوالو ترمنځ هم ناباوري او تېروتنې رامنځته شي چې بیابه ډېر داسې خلک ددوی له نومه ناوړه ګټه واخلي.

څلورم: د نیویارک ټایمز په حواله چې وایي: دغه کس د ناټو په چورلکه کې د پاکستان له خاورې ارګ ته راوړل شوی؛ نو له دې معلومېږي چې دایوه دسیسه وه او دوی غوښتل یا خو افغان حکومت تېر باسي او د سولې د شورا پروړاندې یو خند رامنځته کړي او یا خو یې هم غوښتل چې د خلکو باور په دې سره خپل کړي. دغه راز به خپله د بهرنیانو او افغان حکومت ترمنځ هم له وسلوالو مخالفینو سره د سولې مسئله یو څه تته او ناباوره شي.

ورسره به د سولې جرګې ته هم ستونزمنه وي چې د خپل ځان لپاره د مخالفو مشرانو په نامه خبرې وکړي او د هغوی ملاتړ ترلاسه کړي.

نتیجه:

په داسې حال کې چې ولسمشر کرزي څه موده وړاندې له مخالفو وسلوالو سره د روغې جوړې په موخه د سولې ملي جرګه وټاکله او هیله مندي یې ښوده چې هڅه به وشي ترڅو له دې لارې د هېواد دننه د روان تاوتریخوالي مخه ونیول شي؛ خو په داسې نازک حالت کې د مخالفینو له مهمو او کره سرچینو سره د لیدو کاتو پرمهال بایده دی، چې ټولو اړخونو ته پاملرنه وشي.

بله داچې خپله طالبان هم په اوس مهال کې د مخالف ځواک په توګه پېژندل شوي دي او پرته له دوی نه د افغانستان دثبات مسله ناممکنه ده؛ نو بهرنیان دې هم له هر پلوه د افغانستان اوسنۍ سیاسي وضعه وڅېړي او خپل زیان دې هم له پامه نه غورځوي؛ ځکه که دا چاره له یوه اړخه افغان حکومت ته زیانمنه وي؛ نو له بل پلوه خو یې خپله بهرنیانو ته هم ترهربل چا زیان ډېر دی.

اعلامیه جهانی حقوق کودک

اصل دهم:

کودک باید در مقابل هرگونه اعمال و رفتاری که ترویج تبعیضات نژادی، مذهبی و غیره را ممکن سازد، حمایت شود. کودک باید با روحیه‌ای پرتفاهم، گذشت، معتقد به دوستی بین مردم، صلح و برادری جهانی و با آگاهی کامل از اینکه توانایی و استعداد وی باید وقف خدمت به همنوعانش شود، پرورش یابد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی ارادهٔ
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com